مې ورته وویل:

ــ لیونیه سلام!

زما سلام یې ادا نه کړ او زه له خندانه شنه شوم. زما خندا په غرونو کې انگازه خوره کړه. شاعر دسترگو په رپ کې خپل ځان ته راوگرځید او ډېره سخته کړیکه یې وکړه:

ــ اخ ظالمې! مړدې کړم.

زه بیا له خندا نه شنه شوم او په خندا خندا کې مې ورته وویل:

ــ ولې خو تا به ویل چې خندا دژوند مالگه ده. خو تا به ویل چې زه او ته باید وخاندو.

زه بیا له خندانه شنه شوم او شاعر ته مې وویل:

ــ خانده کنه، خانده چې خندا مو سندریزه شي. شاعر نرې زگیروی وکړ او زما پرخوله یې لاس کېښود:

ــ دخدای په خاطر مه خانده.

شاعرهمداسې نرې نرې زگیروی کاوه. لکه چې ما په زهرو لړلې تېره توره وهلی وي او بیا مې پر زخمونو ورته چاڼ شوې مالگه دوړولې وي. لږه شېبه وروسته دشاعر زگیروی غلی شو او ما ته یې ځیر ځیر کتل. سترگې یې له پوښتنو ډکې وې. ما یې په سترگو کې ټولې پوښتنې ولوستې، د یوې پوښتنې ځواب هم راسره نه وځکه مې ځان تېر کړ او خبره مې په بله واړوله.

ما ځان دماشومې غوندې مرور کړ او پر تنډه مې گونځې راخورې کړې. ماشوم ناز مې له ماشوم قهر سره گډ کړ او شاعر ته مې وویل:

ــ ته چېرې تللی وې؟

ــ په یوې ورکې پسې.

ــ په کومې ورکې پسې؟

ــ په یوې ښکلې او رنگینې ورکې پسې.

# لښته

لکه چې اوس هم دهغې تنکۍ لښتې شغ اورم .زموږ استاد ډېر قهرجن سړی و .له چا نه به چې پرونی سبق هېر و په تنکۍ لښتـه به يې واهه .استاد به هر سهار له خپل ځان سره يوه ګېډۍ تنکۍ لښتې راوړې او د ټولګي په کنج کې به يې نښـغـې کېښـودې .موږ به يو ځل خـپلو کتابونو تـه بيا په کنج کې د تنکيو لښتو ګېډۍ ته بيا تورې تختې ته او بيـا داستـاد د ټنډې تختې ته وکتل .موږ به داستـاد په ټنډه کې رڼا يې لټوله .که داستاد په ټنډه کې به مو يوه ذره موسکا وليده په زړونو کې به خوشالـه شوواو که داستاد ټنډه به تروه وه زموږ زړونه به لکه دمني پاڼې وربېدل او په زړونوکې به دلاسونو سوی راوګرځيده .زموږ په زړونو کې به سرې ليکې تېرې شوې .استاد به وويل:

ــ تاسو بايد سبق په ياد کړئ ! له تاسو نه بايد سبق هېر نه شي !

زه نه پوهېږم چې تاسې ولې له سبق سره مينه نه لرئ ؟!

ما به په زړه کې وويل :

ــ ياخدايه ته مې له سبق سره مينه پيداکړې .ياخدايه ته مې دا ټول کتاب داسې په ياد کړې چې يو ټکی هم رانه هېرنه شي.

